# د سولې سفر

## دولسمه کیسه

دوهم چاپ

# نوی ژوند




**لیکونکي:**

ماری- جو لند
داکتر جوانا سناتا باربارا
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکۍ: یار محمد تره کی*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کيسې او د ښوونکې لارښود په لاندې ويب سايتونو کې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې کيسی کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

## دولسمه کیسه

دوهم چاپ

# نوی ژوند


لیکونکي:

ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ : یارمحمد تره کی

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژی تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان



دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ٥ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱٥ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترور.او د یونس کاکاځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه یي لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت وربانديې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یي کار کولو،یوماین پرې والوت اوهغه یي وواژه اوپلار یي ،میرزا، یوه پېښه له لاسه ورکړه

**دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذاروركړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یي بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

د **بی بي جان د هوښیاری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله  کورنی کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانګړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي .  بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دتپې کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې یوآغېزمنه لارپیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي  هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دمیرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجمیلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهیږي ، دمیرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه یې دومره غمجن کړیدئ . جمیله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاریې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معیوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاریې داسې یو سړی وچې ډېرې کیسې یې

زده وي .  دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي

**د يونس دسندرې په کيسه کې،** احمد او جميله د فاطمي غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونده وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي.  هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چې يوځای کې راټول شي او  هغه خوړې خاطری چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکيودويشتلو باران جوړ شو، کورنۍ له دې ډارونکي واقعيت سره مخ شوه چې بايد خپل يو ګران شئ چې هغه ددوی کور و ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحيې  څخه  کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهيږي چې بايد له زړه ورتيا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د يونوي ملګري په کيسه کې**  دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دميرزا  دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي  . دميرزا ددغه دوست په کور کې عبدالله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل  مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو اارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ينې په کېسه کې** کله چې د جميلې کورنۍ د ښار په لورې ځي، عبدالله وليدل چې جميلې له کوره څخه خپله پيشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشۍ له جميلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته يې ور غورزوي. جميله په ورور باندې په قهر ده او داسی ځان ښيي چې ګواکې وروونه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره يوه لاره ومومي.

**دميرزا دقهر په کيسه کې** ميرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکارددده دکوچنيانو ، جميلې اواحمد ، دوېرې اوډارسبب ګرځي . دميرزا عصبي کيدل دهغه په کوچنيانو ناوړه اغېزپرېږدي اودادې لامل ګرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رويه اختيارکړي . احمد چې پټ شوی وودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې ناآرامی په هکله غږېدل چې ميرزاته دده دپښې دغوڅېدو له

کبله پیداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی وو دازمینه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ یوځل بیااړیکې سمې شي .

**د سولې او پخلاینې په کېسه کې** د بي بي جان عالمانه مهارتونه یوځل بیا ازموېل کېږي. هغوی په دې لټه کې دي چې د میرزا دورور کور، علی او مېرمن ئي چې په ښارکې هستوګنه لري،پېدا کړي. دوی مخکې له دې چې د علی کورو مومي، د کډوالو په یو کیمپ کې چې دا کیمپ په یو زاړه ښوونځی کې جوړ شوی وو ځای په ځای شول. کله چې د میرزا کورنۍ خپل موقتي ژوند په دغه تنګ ګوټ کې پېل کړ، عبدالله له یو کوچنی هلک سره په دې خبره چې هغه خپل بایسکل د نور ود اوسیدلو په ځای کې درولی وو جنګ وکړ.

**دعبدالله او د لوړ قدې په کېسه کې** ، عبدالله له یوې اونۍ راهېسی له خپل فامیل سره د کاکا په کور کې اوسېږي . هغه ډېره سخته تبه لري . هغه مخکی له دې چې ویده شي ، د کوچنیوالي د دورې هغه هیلې او ارمانونه په یاد راولي ، چې غوښتل ئي ، کله چې غټ شی د عسکری خدمت ته به ځی هغه په خوب کې یوقوی هیکل لرونکی عسکر په داسی حال کې وینی چې نوموړی په مارکیټ کې دی اوله ده سره د جنګ د واقعیتونو په اړه خبرې کوی.

**د نوی ژوند په کېسه کې** جمیلې له خپل کاکا، علی او ترور، عایشی ، سره وپیژندل او دا پېژندنه د دې لا مل شوه چې هغه اوس له کور څخه دلرې والي غم نه احساسوي.

هغه اوس خوشحاله برېښي . خو بیا هم کله چې حلیمه دې ته وایي چې ډېر ژربه خدای پاک یو ورور یا خوروركړې . هغه د دې خبرې په اورېدلو ډېره خواښینې کېږي. دا ځکه چې د دوی ژوند ډېر تیت او پرک دئ اوثبات په کې نشته خو مورئې پوهوي او ورته وائي : " د ماشوم زېږول د لوی څښتن تعالی له نعمتونو څخه یو نعمت دئ چې خدای پاک ئي د دوی نصیب ګرځوي. "

**د درملني عنصرونه:**

**تصوېرونه او روغتیا بخښونکی نحښې:** نوی ژوند، خوښی، مور کېدل، خندل په نفس باور، راتلونکې ته هیله او دوستي

**د سوله اېزو کړو و ړو لپاره لارښووني:** غوږنیول، درس ورکول، له یوبل څخه ملاتړ او مهرباني

**ستونزی:** د مور مسئولیت د یو کوچني په اوږو اچول، له بدلون څخه وېره او کورپسې خپه کېدل.

**د در ملنې لارې:** د رواني ستونزو در ملنه، بدنې آرامتیا او روزنه ، بیا مهرباني کول او صمیمانه اړیکې

# نوی ژوند

سرک باندې ډېر شور ماشور وو. خلک په ډېره بېړه تل او راتلل، هېڅوک دبل چا په فکر کې نه و جمیلې ته د خپل کلي د چېتیا او آرامتیا، د کښتونو خوش بویي او د کلیوالو مینه او محبت په زړه ورگرځیدل. هغه او عایشه ترور د ورځنی سودا، ترکارۍ او غوښی درانیولولپاره بازار ته تللی وو. هر کله به چې جمیلې په بازار کې رومي بادنجان ولیدل، هغې ته به هغه رومیان ور په زړه کېدل چې دې به پخپله په باغ کې کرل. دهغې په نظر د باغ رومیان له دې رومیانو څخه خوش مزه وو. جمیله دې ته منتظره وه چې کله او په څه ډول به بېې کورنی بیرته کلي ته ستنه شي.

په بازار کې شور ما شور زیات وونوځکه جمیله مجبوره وه چې په لوړ آواز خبرې وکړې. له همدې کبله بې په لوړ آواز عایشې ترور ته وویل: " ترور! څه فکر کوي، مونږ به و کولی شو چې بېرته خپل کورته ستانه شو؟" عایشی ځواب ورکړ: " مجبور یو دی ته منتظر و او سو چې ستا سو په کلي کې جنگ پای ته ورسیږی. داسی ښکاري چې ته خپل کور پسې خپه شوې ئې. که تاسو بیرته خپلو مځکوته لاړشي زه به ډېره تاپسې خپه شم. ته ډېره ښه نجلی ئې. کله کله وایم کاشکې ما هم ستا په شان یوه نازنینه لورکی درلودلئ.

جمیله مسکی شوه وبې ویل: " عایشې ترور! زه ښارته په راتلو یو شي خوشحاله کړم هغه دا چې ته مې ولېدلې. کله چې مونږ بېرته کورته ستانه شو تاسو بیا زما، احمد او عبدالله دلېدولپاره هلته راشئ.



د هغه معلوماتو له مخې چې عایشی در لود وویل: " جمیله جانی، کورته د بېرته ستنېدو په برخه کې ډېر امید مه لره.  ته نه پوهېږې چې هلته څه تېرېږی. ښایی چې هلته ډېر شیان د جنګ له امله وران شوې وي. له بلی خوا پلار  دې دلته د غالۍ داوبدلو نوی دنده پیدا کړېده! "





جميلې په خندا وويل: " ډېره خوشحاله يم څکه پلارمې د غاليوله او بدلو سره مينه لري. هغه نور نه په غصه کيږی" کله چې هغوی د عايشی ترور او على کاکا کورته روان وو وئې لېدل چې فاطمه ترور له کورنه راووتله.

هغه وخت چې دوی خپلې کوچنی حویلی ته ننوتل جمیلی وویل: " نه پوهیږم چې فاطمه ترور چیرته ځي . هغه هره ورځ د باندی وځي او زه بل څوک نه لرم چې له ما سره په لوستو کې مرسته وکړي. عایشی ترور! ته ماته درس ویلی شي؟ زه دې وینم چې ته مجله وائي، ما ته درس راکوې چې زه هم مجله ولوستلی شم؟" هغوی حویلی ته ننوتل. دمیرزا د کورنی د ژوند ډیری وسایل او سامان د حویلی په منځ کې ایښودل شوی وو. داځکه چې د دې سامانون لپاره وزګاره کوټه موجود نه وه.

عایشی ترور وویل: " جمیلی ! دامې ډیرخوښیږي چې تاته لوستل اولیکل در وښیم. خو اوس غواړم چې د بي بي جان ، غلام کاکا ، علی کاکااوهم دې د پلار جان او ورونولپاره غذا پخه کړم. مور جان دې له سفر څخه وروسته ډیره ستړې او ستومان ده. هغې د کډوالو په کیمپ کې سم استراحت نه دئ کړئ . فاطمه ترور بهر ولاړه هغه هم نه شي کولی چې ماسره په پخلي کې مرسته وکړي. " وروسته بیا عایشی آه وویسته. هغه هم ډیره ستړې شوی وه. ځکه دا ډیره ستونزمنه وه چې د خپل خاوند خپلوان دې په هغو پیسو چې دوی د ځان لپاره پری خواړه چمتو کول په خیټه ماړه کړي.

عایشې ترور وویل: " مهرباني وکړه احمد پیدا کړه، وګوره چې موردې په عذاب نه کړي. "

جمیلې په پریشانۍ پوښتنه وکړه: " مورمې ولې ډیره ستړې او ستومانه ده؟"

هغه ولې تل استراحت ته اړتیالري؟ ایا ناروغه ده؟"

عایشه ترور چې د ډوډۍ په چمتوکولو بوخته وه په خندا ځواب ورکړ: " نه، نه، جمیلې لاړه شه له همغې څخه تپوس وکړه. "



جميله ورو ورو او د پښو په څوکو هغه کوټې ته، چې په هغې کې ئې مور وېده وه، ورننوتله. احمد هم د هغې په څنګ کې وېده وو. جميلې په خپلو کوچنيو لاسونو د مور په ويښتاو له نازه ډک لاس وواهه. د جميلی له نظره ،مورئې ډېره آرامه او اسوده څرګندېدله. حليمې سترګې وغړولې او په مسکا يې وويل: "زما نازنينې لورې، زه هيله لرم چې زما بله لور هم ستا په شانې مهربانه او د ښو اخلاقو لرونکې وي. " حليمې دجميلې په سر د مهربانی ډک لاس راکښود او د هغې لاس يې ونيو. جميلې ورته وويل: "له بلې لور څخه دې هدف څوک ده؟ ته خو يواځې يوه لور لري چې هغه زه يم. "

حليمې په آرام غږ ځواب ورکړ: " جميلی ته به د څو راتلو نکو مياشتوپه منځ منځ کې يو نوی ورور او يا يوه نوې خور پيداکړې. "

جميله په چېغو او واويلا په منډه له کوره بهرووتله وئې ويل: " نوی ورور يا نوې خور! اوه، نه"

حليمې غږ کړ: " جميلی! جميلی! څه وشول؟ " حليمی دا هڅه کوله چې هغه احمد راويښ نه کړي. هغه په ډېره تکليف له خپله ځای څخه پورته شوه او حويلی کې ئې جميلی پسی منډه کړه. وېې ليدل چې جميله د هغو کاليو څنګ ته چې د ځای د نه شتون له کبله د حويلی په منځ کې ډېری شوې وو، ناسته وه. سرېې په زنګونو ايښی و او په هق هق يې ژړل.



حلیمې په داسی حال کې چې دجمیلې په شاه ئې د مهربانی لاس راکشولو په ټوکه وویل: " جمیلی ما فکر کولو چې ته به د نوی ما شوم د خبر په اورېدلو خوشحاله شې. "

جمیلې په ژړا وویل: " څرنگه کولی شو چې یو نوی ماشوم ولرو؟ مونږ کورنه لرو! پیسې نه لرو! خواړه نه لرو! دکور ټول غړي یا تل په قهر وي او یا تل پریشان ! زه کوښښ کوم چې د احمد ساتنه وکړم خو دانشم کولی چې نوی ماشوم هم وساتم! " او ښکې یې په مخ را بهیدلې.

حلیمې وویل: " زما نازنینی جمیلی! وبخښه زه نه پوهېدم چې ته به دومره وارخطا شې. زه نه پوهیدم چې ته د احمد د ساتلو په برخه کې د مسؤلیت احساس کوې. زه د خپلو ستونزو په خاطر پریشانه او په تشویش کې وم. زه نه پوهیدم چې ته هم د هغه په اړه اندیښنه لرې." جمیلې خپل ځان د مور په غېږ کې ور واچولو او په ژړاېې وویل: " هو! زه له جنگ نه ستړې شوې یم. "

حلیمې د خپلې لور اوښکې پاکې کړې وېې ویل: " جمیلې ، کله چې زه د تا په شان کوچنی نجلی وم. ډېره خوشحاله وم. ډېر دوستان می درلودل بیامې ستاله پلار سره واده وکړ هغه ډېر مهربانه سړئ وو.

د جمیلی ژړا غلې شوه. هغې هیڅکله هم له خپله مور څخه د جنگ نه پخوا کېسی نه وې اورېدلې. هغې ددې تصور نه شو کلی چې مورئې هم یوه ورځ یوه ځوانه نجلی وه او د لوبو ملگرې یې درلودل.

حلیمې خپلو خبرو ته دوام ورکړ: " کله چې مونږ واده وکړ ښېخې ځوانان وو خو جدې کار مو کولو او دا کوښښ مو کاو چې ښه ژوند ولرو. د جنگ په پیل کېدلو زمونږ په هر څه کې بدلون راغی. " د حلیمی غږ ښه شو هغې ته د جنگ او وحشت کالونه په یاد ورغلل. حلیمی په پریشانی وویل: " کاشکې چې جنگ نه وای. " هغی خپل سر د مور په غېږ کې ایښئ وو او مور یې دهغې په ویښتانو لاس راکشولو. حلیمی وویل: " هو جمیلی، زه هم همدا دعا کوم. خوته باید وپوهېږې چې دهر پیل لپاره پای اود هر پای لپاره پیل شته دئ. داوس لپاره زمونږ ژوندکول په اطراف کې ختم شوی خو په ښارکې شروع شوئ دئ. زه باورلرم چې نوی ماشوم کولی شي چې مونږ سره مرسته وکړي. هغه هم زمونږ لپاره یو پیل دئ. " اوبیا مسکی شوه پدې وخت کې ئې و لید چې خاوند یې حویلی ته راننوت.





میرزا مکث وکړ. دا چې میرمن او لورئې ډېر سره نږدې ناست وو، ډېر خوښ شو له ډېر وخت راهیسې ېې خپله میرمن دومره آرامه او په راحت کې نه وه لېدلې هغه خپل چکسونه د سلام په ډول اوچت ونیول او کورته راننوت.

حلیمې وویل: " جمیلې گورې! هلته هم د یونوی پېل شروع ده. پلار جان دې یوه نوې دنده پیدا کړېده چې دې دندې دهغه سر بیا لوړ کړی دئ. اوس هغه یو ډېر ښه قالین اوبدونکی دئ. وروږ دې ، عبدالله ، هو ډکړی دئ چې زده کړه وکړي او بیا خلکو ته دماین په اړه معلومات وړاندې کړي او همدارنگه که وکولی شو چې مونږ بیرته خپلې کروندې ته وروگرځو. پلار او عبدالله کولی شي چې خپلو اوسنیو کارونو ته ادا مه ورکړي.مونږ به د ځمکې د کارلپاده مزدوران ونیسو. کله چې مونږ بېرته کورته ستا نه شو نیکه او انا به دې ډېر خوشحاله شي.

جميله ناسته وه او د مور څېرې ته يې کتل. په داسې حال کې چې اوښکې ئې پاکولې وويل: " د کور اوځمکی پرېښودل زمونږ لپاره يو پای او ښارته راتلل زمونږ لپاره يو بل پيل و! او همدارنګه د پلار او عبدالله نوی کار يو ښه پيل وو! که مونږ ښارته نه وی راغلي هغو به هيڅکله هم نوی کار زده کړی نه وو. د عايشې ترور سره زما بلدتيا او پيژندنه هم يو نوی پيل دی. که کلی کې اوسيدلئ هيڅکله به مې هغه نه وه ليدلې.

جميله يو ناڅاپه د پښو په سر کښيناسته او په ورونې د مور په غوږ کې وويل: " او مونږ به يو نوی کوچنئ ولرو!!! " بيائې يوځرخ وخوړ او په خندا يې وويل: " رښتيا هم يو پيل دی! "

